# الاخلاص

**مکی سورة دی ۴ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴿١﴾

**(ای پیغمبره ! هغه کسان( یهودیان) چې ستا نه د الله تعالی د ذات او نسب د څرنګوالی په باب پوښتنه کوی ورته) ووایه الله تعالی یو او واحد ذات دی( هیڅوک ورسره په ذات، صفاتو او افعالو کې شریک نشته او د مجوسیانو او هندوانو دا عقیده کاملاً بې ځایه او مزخرفه ده چې وایی د هر کار لپاره جلا جلا خدایان دی).**

ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ﴿٢﴾

**الله تعالی بې نیازه ذات دی( هر څوک ورته خپلې غوښتنې او اړتیاوې وړاندې کوی، خو دی هیچا ته اړ او محتاج نه دی، او د هغو کسانو ادعا کاملاً غلطه ده چې وایی نور قوتونه لکه روح او ماده هم د دنیا په پیدا کولو کې ستره اغیزه لری. استغفرالله).**

لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ﴿٣﴾

**نه له الله تعالی نه څوک زیږیدلی او نه الله تعالی له چا زیږیدلی دی( او د عیسویانو، یهودیانو او مشرکینو دا ادعا کاملا مردود ده چې عیسی او عزیر او پرښتې د الله تعالی ځامن او لونه ګڼی).**

وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ﴿٤﴾

**او له الله تعالی سره( په خدایی او قدرت کې) هیڅ سیال او شریک نشته ( او د مشرکانو دا عقیده کاملاً مردود ده چې بتان له الله تعالی سره په ربوبیت کې شریک ګڼی).**

**« تمت سورة الاخلاص بفضل الله و رحمته»**

**===================**